ولي الله ملکزی ۲۰۲۴/۰۱/۰۹

# د جنترۍ لنډه تاریخچه

د لرغونپوهنې (Archaeology) او ټولنپوهنې (Sociology) ګڼ شمیر څیړونکي انګیري چې بشري پرګني له نژدې ۳۵ زرو کالو راهیسې د جنترۍ له یو ډول کارولو سره اشنا دي. دوئ باور لري چې لومړنیو وګړو په پیل کې یواځې قمري کلیزه کاروله او د خپل ښکار او خوړو د پیدا کولو لپاره به یې د سپوږمۍ راختل او پریوتل حسابول ترڅو مخکې له دې چې د تړږمۍ شپې را ورسیږي، دوئ باید خپله آذوقه ولري. دغه مهال ټولیز ذهنیت همدا وو چې مځکه یوه هواره او ثابته تخته ده او د لمر سترګه له ختیزه د لویدیز په لور خوځښت مومي او ورځ په شپې بدلیږي.
البته سومري تمدن (۴۵۰۰ قبل المیلاد) د عراق د دجلې او فرات د سیندونو ترمنځ چې یو مخکښ مدنیت وو، د سپوږمیزې کلیزې ترڅنګ د لمریزې جنترۍ استعمالول هم پیل کړل. ځینې مؤرخین بیا په دې آند دي چې د برونزي عصر (۳۲۰۰ قبل المیلاد) د فلکیاتو ماهرینو (Astronomers) لومړني پوهان دي چې د شمسي نظام له درک کولو وروسته یې څلور فصلونه د آشوریانو او کلدانیانو درباړونو ته معرفي کړل او په دې ډول د قمري او هم د شمسي کلیزو کارول عام شول. د لرغوني مصر تمدن هم ورته نظریه درلودله، خو دوئ د کال لپاره د ۱۲په ځای، ۱۳میاشتې ټاکلې وې او دغه وروستۍ میاشت به یواځې پنځه ورځې وه.
کوټلې حقیقت ښایي همدا وي چې رومي امپراطور، جولیس سیزار (Julius Caesar) په عملي ډول د خپل پراخه قلمرو دننه د جولیان په نوم لمریزه جنتري اعلان کړه. ۳۶۵ ورځې یې درلودلې او هر څلور کاله وروسته به یو کبیسه کال راته چې Leap بلل کیږي. بالاخره په ۱۵۸۲م کال کې د کاتولیکانو ستر پاپ، ګریګوري ۱۳(Gregory XIII) په دغه نظام کې بدلون راوست او د حضرت مسیح د پیدایښت ورځ یې د نوي میلادي کال لومړۍ ورځ اعلان کړه. نن د نړۍ د ۱۹۵ هیوادونو له ډلې څخه ۱۶۸ ملکونه همدغه میلادي کلیزه پخپلو رسمي، ملي، مالي او بانکي تعاملاتو کې استعمالوي.
د اسلام په راتګ سره، مسلمانانو په لومړي سر کې هماغه د جاهلیت د زماني کلونه او میاشتې کارولې؛ لکه د حضرت محمد (ص) د پیدایښت کال یې عام الفیل بللو. ولې د نبوت په دیارلسم کال (۶۲۲م) له مکې څخه یثرب (مدینې) ته د پیغمبر صیب هجرت، د اسلام په تاریخ کې د عطف او ستر بدلون ټکي ګڼل کیږي. د هجرت په ۱۷ کال، د علي بن ابي طالب (رض) د مشورې پربنسټ، دوهم خلیفه، عمر بن الخطاب (رض) د خپل خلافت ټولو واکمنانو ته د یو فرمان له لارې، دغه کال په هجري قمري تقویم (کلیزې) باندې ونومولو او امر یې وکړ چې لومړۍ میاشت به یې مُحّرَم او وروستۍ میاشت به ذو الحجه وي. د اسلام تر راتګه، په نني ایران، خراسان، مرکزي اسیا او زموږ په دې ټولې سیمې کې جولیاني جنتري مروجه وه. پوهاند عبدالحي حبیبي په خپل کتاب، «تاریخ افغانستان بعد از اسلام» کې کاږي چې افغانستان ته د اسلام د راتګ په مهال، دلته د خلکو ترمنځ راکړه ورکړه د هندي میاشتو له مخې کیدله چې ډیر ژر یې خپل ځای هجري قمري نظام او عربي میاشتو ته پرېښود.
په ۴۷۱ هجري قمري/۱۰۷۹م کال کې د شاعر او فیلسوف، عمر خیام په ګډون ځینو نجومیانو او د فلک ماهرینو د سلجوقي دورې د مشهور سلطان آلپ ارسلان زوی، جلال الدوله ملکشاه ته د لمریز هجري کال د رامنځ ته کولو مشوره ورکړه. نوموړي سمدستي ومنله او د حمل لومړۍ ورځ یې د نوروز په نوم غوره کړه چې د ایران او کردستان په غرونو کې د زردشتیانو لپاره هم ډیره سپیڅلې وه؛ دغه کلیزه چې جلالي نومیدله په یوې وړې جغرافیې کې بنده پاتې شوه. بیا د ایران وروستني قاجاري واکمن، احمد شاه قاجار د خپل هیواد له مشهور نجومي او ریاضي پوه، میرزا عبدالغفار اصفهاني څخه په ۱۲۶۴ هجري کې وغوښتل چې په هغې کې اړین اصلاحات وکړي او د څلورو واړو موسمونو او ۱۲ میاشتو لپاره نومونه غوره کړي. پنځلس کاله وروسته د ایراني ټولواک، رضا پهلوي په امر د لمریز کال لومړۍ ۶ میاشتې ۳۱ ورځې، وروستۍ ۵ میاشتې ۳۰ ورځې او د حوت میاشت ۲۹ ورځې وټاکل شوه او د ایران د شاهي دولت رسمي کلیزه یې اعلان کړه چې تر نن پورې دوام لري.
په افغانستان کې د غزنویانو، غوریانو، سلجوقانو، صفاریانو، ګورګانیانو، هوتکیانو او درانیانو د واکمنیو په ترڅ کې ټول تجارتي تړونونه (کورني او بهرني) او مالي راکړه ورکړه د هجري قمري او کله ناکله د میلادي جنترۍ له


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

مخې ترسره کیدله. ولی اعلیحضرت امان الله خان په ۱۳۰۱هجري لمريز (۱۹۲۲م) کال کې د خپلو اصلاحاتو په لړ کې د افغانستان د شاهي دولت رسمي کلیزه له قمري څخه شمسي ته واړوله او د هماغي نظامنامي پربنسټ یې د طالبانو د لومړنۍ واکمنۍ پورې داوم وموند. د جمهوریت په مهال کلیزه لمریزه شوه، خو دا دې د طالبانو د دوهمي واکمنۍ په مهال بیرته ټول رسمي تعاملات، مالي او بانکي چار چلند د هجري قمري خوا ته ور وګرځید.
قمري کال ۳۵۴ ورځې، ۸ ساعتونه، ۴۸ دقیقې او ۳۴ ثانیې دی؛ مګر لمریز کال ۳۶۵ ورځې ۵ ساعتونه ۵۹ دقیقې او ۱۶ ثانیې وخت لري. لومړنۍ ۶ میاشتې یې ۳۱ ورځې، ورپسې ۵ میاشتې ۳۰ او د کب میاشت یې ۲۹ ورځې وي؛ خو هر څلورم کال یې دغه میاشت ۳۰ وي چې ۳۶۶ ورځې کیږي او کبیسه یې بولي. له پلوه، همدا اوس په نړۍ کې ۴۱ کلیزې شتون لري چې د مختلفو هیوادونو او ټوکومونو له خوا په رسمي او نیمه رسمي ډول کارول کیږي. په دې کې تر ټولو مشهورې یې عبري، بودایي، چینایي، د لاتیني امریکا مایا او د شمالي افریقا امازیغي کلیزې دي. د قرآنکریم د یونس په ۵ آیت کې د تقویم او حساب په هلکه داسي راځي: (هُوَالَّذِي جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَاء وَالْقَمَرَ نُورًا وَقَدَّرَهُ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُواْ عَدَدَ السِّنِينَ وَالْحِسَابَ – الله هاغه ذات دی چې لمر یې روښانه ځلیدونکې او سپوږمۍ یې رڼا ګرځولې او د هر یو لپاره یې خپل خپل مدار ټاکلی، ترڅو تاسي د کلونو په حساب او شمیر پوه شئ).
که د زمان سینه له رنګینو خاطرو او د زمین ګیډه له بدرنګو ککریو څخه ډکه ده، وي به. خو د تاریخ ارشیفونه د شمسي او قمري حسابونو له محاسبې بې نیازه دي. د نوي میلادي کال په پیل کې د هر باشعوره انسان هیلې او اندیښنې څنګ په څنګ موجونه وهي. لکه د نورو وطنوالو په څیر، زما په ذهن کې هم ځینې ناکراره پوښتنې په تیندکونو دي. آیا زموږ په هیواد کې د سرو او شنو انقلابونو پټنګانو له خپلې ماضي څخه کوم عبرت اخیستي؟ آیا د کابل اوسنیو حاکمانو له قطري شهزادګانو او شیخانو څه زده کړي او آیا په ترکیې کې راټول شوو جنابانو له جګړو او درغلیو څه ترلاسه کړي چې یوځل بیا د اورونو، غمونو او بمونو ترانې غروي؟ بلې، هره جګړه ګټه او بایلات لري، مګر له وخت څخه هغه څوک سود مومي، څوک یې چې په قیمت پوهیږي.
---------------------------------
یادونه: په منني سره، ما په دې لنډې څیړنې کې د پوهاند حبیبي د تاریخ افغانستان بعد از اسلام، د مصرۍ الیوم السابع جریدې، Google او له Wikipedia څخه استفاده کړیده. که لوستونکي وخت او علاقه لري، کولاې شي د ملکزي نورې لیکنې او څیړنې د هغه په فیسبوک او یوتیوب چینل کې ولولي او وګوري.
ادرس یې دا دی: Wali Malakzay

**په افغان جرمن آنلاین کې د ملکزي نورې لیکنې**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څېر و لولئ